مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** ۹۳ (از اول الی هشتم قوس ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ............ ۲

**د سارک اتلسمه غونډه او افغانستان**

- شالید ............ ۳
- غړي او ناظرین ............ ۴
- د سارک هېوادونو د همکارۍ برخې ............ ۴
- د سارک پر غونډه د هند-پاکستان د اختلاف سیوری ............ ۵
- له سارک هېوادونو سره د افغانستان اړیکې ............ ٦
- "په افغانستان کې نیابتي جګړه نه غواړو" ............ ٦

**پیمان امنیتی و آیندهٔ صلح در افغانستان**

- کمپاین به نفع پیمان در ولسی جرگه ............ ۸
- فرمان اخیر رئیس جمهور اوباما ............ ۹
- انګېزهٔ جنګ و آیندهٔ صلح ............ ۱۰
- برنامهٔ صلح رئیس جمهور غنی ............ ۱۰

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د سارک سازمان او په دغه سازمان کې د افغانستان د غړیتوب د شالید ترڅنګ، د سارک هېوادونو د مشرانو په اتلسمه غونډه کې د افغانستان د ګډون په تړاو؛ او په بله برخه کې د امریکا د ولسمشر بارک اوباما له خوا د ۲۰۱۵ کال تر پایه په افغانستان کې د امریکا د جګړه ییز ماموریت پر غځولو او ورسره هم مهاله د افغانستان د ولسي جرګې له خوا د دواړو هېوادونو ترمنځ د امنیتي تړون د تصویبولو په تړاو د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د څېړونکو د بورډ شنني لولئ.

ولسمشر اشرف غني د نیپال په پلازمېنه کټمنډو ښار کې د سارک ټولنې په اتلسمه غونډه کې د افغانستان په استازیتوب ګډون وکړ. نوموړي په دې غونډه کې د سارک له غړو هېوادونو سره د اړیکو جوړولو هڅې وکړې او ورسره هم مهاله یې د خپلې وینا پر مهال پر پاکستان او هند ګوزار وکړ او ویې ویل، چې افغانستان به نورو هېوادونو ته په خپله خاوره کې د نیابتي جګړې اجازه ورنه کړي. د سارک سازمان شالید ته په کتو سره دا سازمان په کوم لور روان دی؟ او په ټولیز ډول د دغه سازمان اتلسمې غونډې، افغانستان او نورو غړو هېوادونو ته څه لاسته راوړنې درلودې؟

همدا راز د سارک سازمان له دې غونډې سره تقریباً هم مهاله، د افغانستان ولسي جرګې له امریکا سره دوه اړخیز امنیتي تړون له بحث پرته په ډېره بېړه تصویب کړ؛ په داسې حال کې امریکایي رسنیو د اوباما له خوا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د هر ډول عملیاتو ترسره کولو موده، د یوه پټ فرمان له مخې د ۲۰۱۵ کال تر پایه وغځوله. دا چې د دغه تړون له تصویب او د اوباما له وروستي فرمان سره به د افغانستان امنیتي وضعیت په کوم لوري ولاړ شي او سولې برخلیک به څه وي؟ هغه موضوعات دي چې دلته یې د شننو تفصیل لولئ:

# د سارک اتلسمه غونډه او افغانستان




د سارک هېوادونو د مشرانو دوه ورځنۍ غونډه د نیپال په پلازمېنه کتمندو ښار کې جوړه او د نومبر په 28مه نېټه پای ته ورسېده. افغانستان د دغه سازمان وروستی غړی دی، چې د دغه سازمان پر غړیتوب یې اووه کلونه اوړي.

د سارک یا د سوېلي اسیا د همکاریو سازمان په دې غونډه کې ولسمشر اشرف غني د افغانستان په استازیتوب ګډون وکړ، چې د افغانستان پر استازیتوب سربېره یې، د سارک هېوادونو له مشرانو سره هم وکتل.

## شالید:

سارک د سیمې مهم سازمان دی او د سوېلي آسیا په اقتصادي پیوستون او یو ځای والي کې د بدلون یوه طرحه بلل کېږي. د دغه سازمان د رامنځته کولو لپاره درې ځله (په ۱۹۴۷، په ۱۹۵۰ او ۱۹۵۴ کلونو کې) هڅې وشوې؛ خو هغه مهال ناشونې وه چې داسې یو سازمان دې جوړ شي؛ مګر وروسته چې کله پاکستان دوه ټوټې شو او بنګله دېش له پاکستانه خپلواکي واخېسته، نو د بنګله دېش ولسمشر ضیاءالرحمان په ۱۹۷۴ کال کې هند ته د سفر پر مهال، خپله دا هیله څرګنده کړه چې سوېلي آسیا په یوه اقتصادي انټګرېشن (Integration) کې سره غوټه شي.

هغه مهال د ضیاءالرحمان هڅې د سوېلي آسیا د هېوادونو[1] له تاوده هرکلي سره مخ شوې؛ خو پاکستان او هند د شک په سترګه ورته کتل. له هند سره دا وېره وه، چې د سوېلي اسیا کوچني هېوادونه به د هند پرخلاف په دغه سازمان کې

[1] نیپال، سریلانکا، بوتان، مالدیف او په خپله بنګله دېش.

سره راغونډېږي او پاکستان بیا له دې امله وېره درلوده، چې د دغو ټولو هڅو تر شا هند ولاړ دی او غواړي چې د سوېلي آسیا ټولو اقتصادي مارکېټونو ته لاره ومومي او په دې توګه په سیمه کې خپله ولکه نوره هم ټینګه کړي.

په پایله کې له دې هر څه سره سره، په ۱۹۸۵ کال کې د سارک لومړۍ غونډه جوړه شوه او په دې توګه د سیمې د اقتصادي یو ځای والي خوب تر څه حده عملي جامه واغوسته.

افغانستان په داسې سیمه کې پروت هېواد دی، چې ځینې یې د منځنۍ اسیا، ځینې یې د سوېلي آسیا او ځینې نور یې هم بیا د منځنې ختیځ برخه بولي. د سارک ټولنې د غړیتوب ترلاسه کولو پرمهال هم دغه بحث تود شو، چې افغانستان د سوېلي آسیا برخه نه بلکې د منځنۍ آسیا هېواد دی او په دغه سازمان کې غړیتوب نه شي ترلاسه کولی؛ خو بالاخره په ۲۰۰۵ کال کې د سارک په ۱۳مه غونډه کې پرېکړه وشوه، چې افغانستان د سارک هېوادونو برخه ده او په ۲۰۰۷ کال کې د هند په نوي ډیلي کې د سارک په غونډه کې افغانستان هم د دغه سازمان غړیتوب ترلاسه کړ.

## غړي او ناظرین:

دغه سازمان ۸ غړي لري، چې (افغانستان، پاکستان، هندوستان، سریلانکا، بنګله دېش، بوتان، مالدیپ، او نیپال یې غړي دي) او همدا راز څو هېوادونه او سازمانونه، چې (امریکا، جاپان، چین، ایران، اروپایي اتحادیه، استرالیا، ماریتېس او سویلي کوریا دي)، د دغه سازمان په ناظرینو کې راځي.

داسې ښکاري، چې میانمار به هم د دغه سازمان غړی شي او هغه هېوادونه چې د ناظرینو په توګه یې وړاندیز کړی (ترکیه، سویلي افریقا او روسیه) دي.

## د سارک هېوادونو د همکارۍ برخې:

- د سوېلي آسیا د خلکو ژوند ښه کول
- د اقتصادي پرمختګ چټکتیا، ټولنیزه وده او په سیمه کې کلتوري پرمختګ
- د سوېلي آسیا د هېوادونو ترمنځ پر ځان بساینه زیاتول
- په اقتصادي، ټولنیزه، کلتوري، تکنالوژیکه او ساینسي برخو کې له یو بل سره همکاري
- له پرمختګ کوونکو هېوادونو سره د همکاریو پیاوړتیا
- په نړیوالو فورمونو کې، پر هغه څه چې ګډې ګټې ولري، همکاري کول

دا چې د سوېلي آسیا نړدې ټول هېوادونه د برېښنا د کموالي له ستونزې سره مخ دي او په ځینې هېوادونو کې دغه ستونزه خورا جدي ده، نو له تمې سره سم په دې اړه د غونډې په وروستۍ ورځ یو تړون لاسلیک شو؛ خو د تجارت او ترانزیټ په برخه کې نور تړونونه د پاکستان او هند د اختلافاتو له کبله له لاسلیک څخه پاتې شول.

دا تړونونه ځکه اړین دي، چې دا سازمان په همدې موخه جوړ شوی و، چې سیمه به په اقتصادي غوټو کې سره نښلوي او دا چې د پاکستان او هند ترمنځ رقابت روان وي او خرابې اړیکې ولري، نو ښایي د سارک سازمان به له ناکامۍ سره مخ کړي.

## د سارک پر غونډه د هند-پاکستان د اختلاف سیوری:

که څه هم د سارک سازمان تر وروستیو کلونو پورې یو غیرفعال سازمان بلل کېده؛ خو کله چې په هند کې نارېندار مودي واک ته ورسېد، نو د خپلې لوړې مراسمو ته یې د سارک هېوادونو مشران راوبلل او ترڅنګ یې د پاکستان لومړی وزیر نواز شریف هم دعوت کړ، څو د دغه غیرفعال سازمان د بیا فعالېدو پیلامه شي. د نارېندار مودي دغه هڅه د پاکستان د سفیر له خوا هغه مهال له ناکامۍ سره مخ شوه، چې کله یې د کشمیر له رهبرانو سره وکتل. وروسته بیا د پاکستان-هند پر پوله د وسله والو نښتو له امله دغه نېږدې کېدونکې اړیکې له ګواښ سره مخ شوې چې له امله یې د پاکستان او هند اختلافاتو د سازمان پر دې غونډه هم منفي سیوری غوړولی و.

سارک د اقتصادي انټګرېشن په موخه جوړ شوی سازمان دی، چې ډېری مهال د هند او پاکستان د رقابت له امله ځینې وړاندیزونه ردېږي. د سارک د جوړېدو په اوږده پړاو کې هم د دغو دوو اتومي ګاونډیانو رقابت له ورایه ښکاره و او د همدې رقابت له امله په ۲۰۱۲ کال کې په هند کې د سارک په جوړه شوې غونډه کې پاکستان ګډون نه و کړی.

دا چې د سارک سازمان لاهم نه دی بریالی شوی، چې د سوېلي آسیا "اسیان" او یا "اروپایي اتحادیې" په څېر وځلېږي، ترټولو ستر لامل یې د پاکستان-هند کړکېچنې اړیکې دي. د سارک سازمان د هغه شان پرمختګ لپاره چې تمه یې وه، د پاکستان او هند ښو اړیکو ته اړتیا ده او د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ د خرابو اړیکو په صورت کې به دا سازمان خپلو موخو ته ونه رسېږي.

د دغه سازمان په وروستۍ غونډه کې هم ځینې تړونونه، چې تمه کېده په دې غونډه کې به لاسلیک شي، د پاکستان او هند د روانو کړکېچونو او خرابو اړیکو له امله تر دریو میاشتو پورې وځنډول شول.

## له سارک هېوادونو سره د افغانستان اړیکې:

د سارک په اتلسمه غونډه کې افغان ولسمشر اشرف غني د سارک له غړو هېوادونو سره د اړیکو جوړولو په هڅو مشغول و. ده د بنګله دېش له صدر اعظمې، د هند له صدر اعظم نارېندرا مودي، د بوتان له صدر اعظم، د سرېلانکا له ولسمشر او د مالدیف له ولسمشر سره وکتل او د اړیکو ښه کولو هڅه یې وکړه.

په دغو لیدنو کې تر ټولو مهمه ناسته د هند له صدر اعظم نرېندار مودي سره وه، چې د هندي رسنیو له مخې، ویل کېږي چې نرېندرا مودي د اشرف غني خبرو ته غوږ په دقت غوږ نیولی و او د افغانستان د سولې او امنیت په اړه یې د ده تګلارې او پلانونه اورېدل.

نارېندار مودي هم په خپل وار سر افغان ولسمشر ته د مرستو ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې هند به افغانستان یوازې نه پرېږدي. ترڅنګ یې اشرف غني ته د هند د سفر وړاندیز هم وکړ او د ځینې باوري سرچینو له مخې، دا سفر به د نوي کال په لومړیو ورځو کې ترسره شي.

## "په افغانستان کې نیابتي جګړه نه غواړو"

افغانستان له ۷۰مې لسیزې راپه دې خوا او په مشخصه توګه له ۹۰مې لسیزې راهیسې د هند او پاکستان د نیابتي جګړې او رقابت ډګر ګرځېدلی. د نوییمې لسیزې پرمهال پاکستان له طالبانو څخه ملاتړ کاوه او هند بیا له شمالي ټلوالې څخه. همدغه رقابت او نیابتي جګړې هم د افغانستان د کورنۍ جګړې د ګرمېدو لامل شوې؛ خو د ۲۰۰۱ کال د سپتامبر له ۱۱مې وروسته هند په افغانستان کې نسبتاً ښه دریځ درلودلی او کابو له دوه مېلیارده ډالرو څخه زیاته مرسته یې له افغانستان سره کړې، ډېرې پروژې یې بشپړې کړې او د افغانانو په زړونو کې یې د درناوي ځای پیدا کړی دی.

پاکستان بیا په دې موده کې د تذبذب ښکار و، د بُن په کنفرانس کې یې د طالبانو د ګډون غږ پورته کړ او کابل ته یې د شمالي ټلوالې له راتګ څخه وېره وه. ترڅنګ یې د حامد کرزي له حکومت سره د همکارۍ ټېنګ هم ډېباوه.

د حامد کرزي د واکمنۍ پرمهال کابل له پاکستان سره ګډې وډې اړیکې درلودې او ډېری مهال به کابل، اسلام اباد پر دې تورناوه چې دوه مخی سیاست یې خپل کړی؛ له یوې خوا د همکارۍ ژبنۍ ژمنې کوي او له بلې خوا د طالبانو ملاتړ کوي، څو د کابل حکومت راوپرځوي. پاکستان هم له کابل څخه ورته اندېښنې درلودې، چې له هند سره یې لاس یو کړی او په ګډه په پاکستان کې لاسوهنې کوي او دا اندېښنې هغه مهال لا زیاتې شوې، کله چې کابل له نوي ډیلي سره

ستراتېژيک تړون لاسليک کړ او ترڅنګ يې حامد کرزي له هند څخه وغوښتل، چې پر دوی درنې وسلې وپلوري. اسلام اباد دې هر څه ته په افغانستان کې د هندي نفوذ د زياتوالي په سترګه کتل او له دې يې وېره درلوده، چې په دې توګه به په کابل کې د پاکستان پرخلاف زهر وشيندل شي.

د اشرف غني له راتګ سره دواړو خواو داسې وپتېيله چې له يو بل سره د اړيکو ښه کولو وخت رارسېدلی؛ خو له پاکستانه د اشرف غني له راګرځېدو سره د پاکستان د بهرنيو چارو سلاکار سرتاج عزيز داسې څرګندونې وکړې، چې له افغانانو سره يې د پاکستان د يوه نوي ډول دوه مخي سياست شکونه راپورته کړل؛ که څه هم نوموړي وروسته د خپلو څرګندونو سپيناوی هم وکړ.

د سرتاج عزيز له څرګندونو  وروسته، د پاکستان پخواني ولسمشر او لوی درستيز جنرال مشرف په خپله يوه مرکه کې وويل، چې د امريکايانو له وتلو سره به د دواړو هېوادونو ترمنځ  نيابتي جګړه پيل شي. د دې خبرې په غبرګون کې پخواني ولسمشر حامد کرزي هم تر ټولو مخکې غبرګون وښود او ويې ويل، کابل به اجازه ورنه کړي چې د افغانستان خاوره د هند او پاکستان ترمنځ د نيابتي جګړې پر ډګر بدله شي.

ولسمشر اشرف غني بيا يو څه ځنډمهالی غبرګون وښود؛ خو د ځای انتخاب يې ډېر پر ځای و، ترڅو پر دواړو هېوادونو (پاکستان او هند) مخامخ ګوزار وکړي، ښاغلي غني د سارک په غونډه کې د وينا پر مهال، چې د پاکستان او هند لوړپوړي وزيران هم موجود وو، وويل: "موږ به نه يوازې دا چې چاته به اجازه ورنه کړو، چې زموږ خاوره د بل کوم ګاونډي پرضد وکارول شي، بلکې دا اجازه هم نه ورکوو چې يو ځوک دې زموږ په هېواد کې نيابتي جګړه پيل کړي."

## پیمان امنیتی و آیندۀ صلح در افغانستان



طوری که انتظار می‌رفت پیمان امنیتی با امریکا و قرارداد حضور ناتو بعد از سال ۲۰۱۴ در افغانستان، از طرف ولسی جرگه با اکثریت آراء به تصویب رسید. همانگونه که رئیس جمهور غنی برای امضای این پیمان‌ها عجله داشت و فردای روز تحلیف آنرا امضا کرد، پارلمان نیز با عجله و بدون اینکه در مورد آن بحثی صورت گرفته باشد و برخلاف قاعدۀ معمول ولسی جرگه که جلسات عمومی روزهای دوشنبه و چهارشنبه دایر می‌گردد در روز یکشنبه جلسۀ عمومی دایر کرد در مورد رای گیری نمود و با ۵ رای مخالف و سه رای ممتنع آنرا تائید کرد.

به موجب این پیمان، ماموریت نظامی نیروهای خارجی در افغانستان در پایان امسال باید به پایان می‌رسید و سر از آغاز سال ۲۰۱۵ این ماموریت به آموزش و مشوره‌دهی به نیروهای افغان خلاصه می‌شد؛ اما یک روز قبل از رفتن این پیمان به ولسی جرگۀ افغانستان، رسانه‌های امریکایی گزارش دادند که رئیس جمهور اوباما طی یک فرمان سری، ماموریت رزمی نیروهای امریکایی در افغانستان را برای یک سال دیگر تمدید نمود بدون اینکه در این مورد جانب دیگر این پیمان یعنی افغانستان را در جریان قرار داده باشد.

### کمپاین به نفع پیمان در ولسی جرگه:

از ابتداء مشخص بود که امریکا هیچ تعهدی به مفاد این پیمان ندارد، اما گماشته‌های امریکا تلاش داشتند تا با فریب ملت، این پیمان را راه‌حل تمام مشکلات افغانستان وانمود ساخته و به این ترتیب از بحث روی مفاد آن حتی در ولسی جرگه جلوگیری نمایند. امریکایی‌ها نگران بودند که اگر مفاد این پیمان مورد بحث قرار گیرد، مردم افغانستان به این نکته پی می‌برند که پیمان امنیتی نه تنها دردی را دوا نمی‌کند بلکه دست امریکا را در مداخله در افغانستان بازتر می‌سازد که

نتیجه‌ای جز دوام جنگ نخواهد داشت. از همین‌رو به تعدادی از وکلا بخصوص زنها وظیفه سپردند، تا به نفع این پیمان طوری کمپاین نمایند که مانع از بحث روی مواد این توافقنامه گردند.

از زمانیکه پیمان توسط دولت جدید در کابل امضا شد، این دسته از وکیله‌ها بصورت منظم میان ولسی جرگه و سفارت امریکا در رفت و آمد بودند و به گفتهٔ بعضی از اعضای ولسی جرگه که حتی در رسانه‌ها هم منعکس گردید، لیست‌هایی از وکلای هوادار امریکا به سفارت امریکا داده شد و به این ترتیب زمینه برای امضای چشم بستهٔ این قرارداد مهیا گردید.

وکلای گماشته شده از جانب سفارت امریکا نیز منکر این کار نبودند، بلکه چنین توجیه می‌کردند که وکلا حق دارند در مورد یک پیمان که باور دارند به نفع افغانستان است، دست به کمپاین بزنند و این کار خلاف قانون نیست.

## فرمان اخیر رئیس جمهور اوباما:

در مادهٔ دوم پیمان امنیتی امریکا با افغانستان چنین آمده است:

نیروهای ایالات متحده هیچگونه عملیات محاربوی را در افغانستان اجرا نمی‌کنند، مگر اینکه طرفین طوری دیگری توافق کنند.

اما بدون اینکه توافقی با جانب افغانی صورت گرفته باشد، اوباما بصورت یک جانبه این مادهٔ قرارداد را زیر پا می‌گذارد. گفته می‌شود که دلیل اینکه رئیس جمهور اوباما خلاف پیمان، چنین فرمانی را صادر کرده است لابی جنرال‌های امریکایی است که به اوباما تذکر دادند که نیروهای افغان بدون کمک نیروهای امریکایی قادر به دفاع و پیشبرد وظایف خود بصورت مؤثر نیستند. همین سخن از قول یک جنرال افغان نیز گفته می‌شود که نیروهای ما بدون کمک هوایی نیروهای امریکایی قادر به دفع حملات طالبان نیستند.

امریکایی‌ها بحدی نسبت به مجبوریت‌های افغانستان و تائید پیمان امنیتی توسط ولسی جرگه مطمئن بودند که حتی این تصور را نیز نکردند که اگر قبل از تصویب آن از جانب ولسی جرگه، پیمان را زیرپا گذارند ممکن است پیمان در مجلس از جانب نماینده‌گان زیر سوال برود.

در ولسی جرگه هیچ بحثی در مورد انسجام حقوقی این پیمان (عدم مغایرت آن با قوانین کشور) و اصل صراحت از نظر قانونی صورت نگرفت و به همین دلیل در حالیکه رعایت مفاد این پیمان از جانب افغانستان الزامی است، از جانب امریکا نوعی تعهد اخلاقی می‌باشد.

## انگیزۀ جنگ و آیندۀ صلح:

جنگ و خشونت در قدم اول نیاز به انگیزه دارد و اگر انگیزۀ جنگ وجود نداشته باشد، تنها موجودیت اسلحه در دست مردم نمی‌تواند عامل جنگ باشد، بعنوان مثال در ایالات متحدۀ امریکا که مردم بشکل قانونی حق دارند اسلحه داشته باشند و صدها هزار قبضه سلاح در دست مردم است، داشتن این اسلحه موجب جنگ علیه دولت نشده است.

مقامات امنیتی کشور اذعان می‌دارند که از زمان بقدرت رسیدن دولت جدید در کشور، در حملات مخالفین مسلح دولت بیش از ۶۰ درصد افزایش بعمل آمده است. آیا این افزایش در میزان خشونت و جنگ نمایانگر انگیزۀ بیشتر در صف مخالفین مسلح دولت بعد از امضای قرارداد امنیتی نیست؟

این درحالیست که رئیس جمهور غنی گفت که تلاش در جهت تامین صلح در کشور در اولویت کاری اوست و بدون تامین صلح در کشور، هیچ برنامه‌ای قرین موفقیت نخواهد بود.

از طرف دیگر رئیس جمهور در ملاقات با تعدادی از سناتوران گفته است که تامین امنیت در افغانستان نیازمند یک برنامۀ دقیق برای رسیدن به صلح است، نه جابجا کردن مقامات امنیتی از یک پست به پست دیگر.

## برنامۀ صلح رئیس جمهور غنی:

بعد از امضای قرارداد امنیتی با امریکا، طالبان هرگونه مذاکره با حکومت افغانستان و امریکا را رد کردند و جنگ را شدت بخشیدند. بعد از اینکه اوباما فرمان دوام ماموریت جنگی سربازان این کشور بعد از سال ۲۰۱۴ را نیز تمدید نمود، دورنمای مذاکره با طالبان بشدت تیره وتار به نظر می‌آید.

بنابراین رئیس جمهور غنی فقط می‌تواند یک برنامه به منظور صلح داشته باشد و آن رسیدن به صلح از راه جنگ است که امضای قرارداد امنیتی نیز به همین معنی است. نیروهای امریکایی بعد از سال ۲۰۱۴ نیز در ماموریت‌های جنگی در کنار نیروهای افغان خواهند ماند و تلاش خواهند کرد تا طالبان را شکست بدهند. رئیس جمهور غنی در ملاقات با عده‌ای از اعضای مجلس سنای کشور گفته است که باید علیه طالبان در ولایات مختلف از جمله کندز، فاریاب، بادغیس، ننگرهار، هلمند... عملیات نظامی صورت گیرد.

هدف رئیس جمهور از این برنامه این خواهد بود تا طالبان از راه جنگ ضعیف شوند و سپس مجبور به مذاکره به منظور صلح گردند. اینکه در طول سیزده سال گذشته و حضور بیش از ۱۲۰ هزار سرباز خارجی این هدف برآورده نشد، مشخص نیست که با دوازده هزار سرباز خارجی در یک سال آینده چگونه این هدف تامین خواهد شد. پایان


**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)